هفته نامه

# معارف

اوونیزه

د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنيزه خپرونه

سال تاسیس ۱۳۸۱ شماره مسلسل ۲۰۵ ماه قوس سال ۱۳۹۵


معارف سالم، متوازن و کوشا ضامن رشد و ترقی کشور است

## له پوهنې وزارت سره ۲۶،۸ میلیونه امریکايي ډالره مرسته وشوه

د ښوونيز نظام د ودې او پراختيا، د ښوونې او روزنې سيستم د ښه والي او د افغانستان د خلکو په ځانګړي ډول د نجونو لپاره د باکيفيته زده کړو د اسانتياو برابرولو په موخه د آسيا افغانستان بنسټ، ورلډ وېژن او اکټيډ موسسو له پوهنې وزارت سره د څه باندې ۲۶،۸ میلیونه ډالرو مرسته وکړه.

ددې مرستو تړونونه د پوهنې وزير ښاغلي ډاکټر اسدالله حنيف بلخي او د يادو موسسو د استازو ترمنځ په پوهنې وزارت کې لاسليک شول.

د پوهنې وزير ډاکټر اسدالله حنيف بلخي د افغانستان د ښوونې او روزنې سيستم د پياوړتيا او پراختيا په برخه کې د نړيوالې ټولنې په ځانګړي ډول د يادو موسسو له شويو مرستو مننه او قدرداني وکړه وويل: له دغه مرستې څخه به ۲۶ ميليونه او ۹۵ زره ډالره د آسيا افغانستان بنسټ د راتلونکو پنځو کلونو په ترڅ کې د کتابتونونو د مديريت او مطالعې کلتور پر ودې او پراختيا، د کانکور د آزمويني لپاره د نجونو پر چمتووالي، په اساسي زده کړو کې له معلوماتي ټکنالوژۍ څخه په ګټې اخيستو، د هېواد د ۳۴ ولايتونو په ۴۵۰ بابه ښوونځيو کې د لمريز سيستم پر فعالولو، په پوهنې وزارت کې د ظرفيتونو پر لوړولو او پر يو شمېر نورو اړوندو برخو کې ولګول شي.

دغه راز به د اکټيډ موسسه په راتلونکي يو نيم کال کې د څه باندې ۴۳۹ زره ډالرو په ارزښت د جوزجان په مرکز شبرغان کې ۴۰ د محلي زده کړو ټولګي او د کورنيو جګړو له امله د بې ځايه شويو ماشومانو لپاره ۱۲ د چټکو زده کړو ټولګي جوړ کړي. په محلي ټولګيو کې به شاوخوا ۱۲۰۰ ماشومانو او د چټکو زده کړو ټولګيو کې به ۳۶۷ جګړه ځپلو ماشومانو ته د زده کړو اسانتياوې برابرې شي.

د ورلډ وېژن موسسه به بيا د شوي تړون له مخې د راتلونکو دو کلونو په موده کې د هرات او بادغيس ولايتونو په لرې پرتو او ناامنه سيمو کې د ۳۰۰ زرو ډالرو په ارزښت ۷۲۰ تنو ته د سواد زده کړو اسانتياوې برابرې کړي، چې ۸۰ سلنه به



يې مېرمنې وي.

د پوهنې ښاغلي وزير د هېواد په ناامنه سيمو کې د جګړو له امله د بې ځايه شويو ماشومانو لپاره د باکيفيته ښوونيزو او روزنيزو خدمتونو برابرول يوه لويه ننګونه وبلله او ټينګار يې وکړ، چې ددې مرستو پرمټ به د چټکو زده کړو او محلي ټولګيو د جوړولو له لارې جګړه ځپلو ماشومانو ته د اساسي زده کړو اسانتياوې برابرې کړو.

وروسته د يادو موسسو استازو هم پر خپل وار خبرې وکړې او د پوهنې وزارت له پروګرامونو د ملاتړ ترڅنګ يې په بېلابېلو برخو کې د مرستو او همکاريو ژمنه وکړه.

## نشرات تلویزیون معارف دیجیتالی شد

در محفل افتتاحیه دستگاه جدید این تلویزیون جلالتمآب دکتر اسدالله حنیف بلخی وزیر معارف، رئیس وکارمندان



تلویزیون معارف، محترم حاجی عبدالقهار عابد رئیس دفتر مقام ریاست اجرائیه، سفیر ایتالیا مقیم افغانستان و نماینده مؤسسه یونسکو و کارمندان تلویزیون مذکور اشتراک داشتند.

در ابتداء جلالتمآب دکتر اسدالله حنیف بلخی وزیر معارف افغانستان با توجه به نقش و اهمیت رسانه ها در تنویر اذهان شاگردان و استادان و آگاهی دهی مردم اذعان داشته گفتند : «وزارت معارف از بدو تأسیس تلویزیون و رادیوی تعلیمی و تربیتی تا اکنون توانسته با تهیه و نشر ده ها برنامه از قبیل درس های مضامین ساینس، تدریس میتودیکی دروس مکتب، آموزش از راه دور، تشریح و توضیح قوانین، لوایح و مقرره های این وزارت سهم فعال را ایفأ نماید که با نصب تجهیزات جدید حاضر، برنامه های تعلیمی و تربیتی وزارت معارف هرچه رساتر به هر خانۀ از هموطنان عزیز ما رسانیده می شود.»

محترم وزیر معارف کشور اضافه نمودند: «با توجه به پیشرفت های علمی به ویژه در بخش ارتباطات و تکنالوژی وزارت معارف در صدد آن شد تا نشرات تلویزیون را به سیستم دیجیتالی در آورده که از کمک های ۱،۲ میلیون دالری کشور ایتالیا در این راستا می توان یاد و قدردانی نمود.»

متعاقباً پیام مقام ریاست اجرائیه از جانب الحاج عبدالقهار عابد رئیس دفتر آن مقام به خوانش گرفته شد. در پیام به اهمیت تلویزیون بمثابه یگانه وسیله سمعی و بصری اظهار امید واری گردید که با دیجیتالی شدن تلویزیون معارف هموطنان ما بتوانند از خدمات تعلیمی و تربیتی والا مستفید گردند .

بالنوبه سفیرکشور ایتالیا و نماینده موسسه یونسکو نیز صحبت نموده و به حمایت متداوم شان در پیوند به غنامندی نظام آموزشی معارف و بهبود سیستم تعلیم و تربیه در افغانستان تأکید نمودند.

گفتنی است که ضمن تجهیز ستدیوهای خبری و پرودکشن تلویزیون مذکور، منبعد هموطنان عزیز ما می توانند از نشرات وزارت معارف در داخل و خارج کشور از طریق ماهواره های عقاب و ستلایت نیز استفاده نمایند.

شایان ذکر است که از مبلغ کمک شده فوق الذکر علاوه از تجهیز شعبات تلویزیون معارف، سه فلم مستند در پیوند به تعلیم، تربیه و فرهنگ نیز در ولایت کابل، قندهار و بامیان تهیه شده است.

## سنگ تهداب تعمیر لیسۀ پغمان قشنگ گذاشته شد

سنگ تهداب تعمیر لیسه پغمان قشنگ در ولسوالی پغمان ولایت کابل با حضور داشت داکتر شفیق صمیم معین تعلیمات



اسلامی، رئیس معارف ولایت کابل در حالی که وکلا، مسؤولین ادارات دولتی متنفذین قومی استادان وشاگردان حضور داشتند گذاشته شد. تعمیر متذکره بصورت پخته و اساسی در سه طبقه دارای ۱۶ صنف درسی ۴ اتاق اداری، ۶ غرفه مبرز به ارزش ۳ میلیون دالرامریکایی ازسوی کمیته آلمان برای اطفال افغان در مدت ۱۸ ماه اعمار می گردد که در پهلوی آن برای این لیسه ۳۶ پایه میز و چوکی با سایر ملحقات ضروری آن مدنظر گرفته شده است. در حال حاضر درین لیسه حدود ۲۱۴۷ تن شاگرد مصروف آموزش هستند که امور تدریسی شان از سوی ۳۷ تن استاد به پیش برده می شود.

ناگفته نماند که از سال ۱۳۸۱ بدینسو حدود ۲۸۰ تن شاگرد ازین لیسه فارغ گردیده است. قابل یاد آوریست که کمیته آلمان برای اطفال افغان از سال ۲۰۰۲ اکنون در عرصه معارف فعالیت های خود را آغاز نموده که تا به حال ۲۲ باب مکتب را در افغانستان اعمار نموده است. همچنان دو دارالیتام و یک پوهنتون از طرف نهاد نامبرده در ولایت لغمان اعمار کرده است. مسولان معارف ولایت کابل از کمک و همکاری کمیته آلمان برای اطفال افغان که در عرصه معارف ایشان را یاری وهمکاری میکنند اظهار قدردانی نموده و خواستار کمک های هر چه بیشتر در زمینه شدند که از سوی این نهاد وعده هر گونه کمک و همکاری داده شد.

## تفاهمنامۀ همکاری محو بی سوادی با وزارت خانه های سکتوری به امضأ رسید

در محفلی که بدین مناسبت به اشتراک جلالتمآب قانون پوه سرور دانش معاون دوم ریاست جمهوری دکتراسدالله حنیف بلخی وزیر معارف، وزرای محترم وزارت انرژی و آب، اقتصاد، ترانسپورت،امور داخله، فواید عامه، مخابرات، شهر سازی و مسکن و ریاست های امنیت ملی و ارگانهای محل دایر گردیده بود ، تفاهمنامه همکاری به هدف امحای بی سوادی در کشور به امضأ رسید.

در ابتدأ جلالتمآب دکتر اسدﷲ حنیف بلخی وزیر معارف افغانستان ضمن خوش آمدید به مهمانان عالی رتبه که غرض امضای تفاهمنامه حضور به هم رسانیده بودند در مورد پلان های این وزارت در پیوند به امحای بی سوادی معلومات مبسوطی ارایه داشته، که به تعقیب آن جلالتمآب سرور دانش معاون دوم ریاست جمهوری افغانستان نیز بی سوادی را سدراه پیشرفت و ترقی کشور دانسته و به همکاری و تلاش های گستردۀ تمام نهادهای دولتی و حمایت ملت شریف و علم پرور افغانستان درین راستا ، تأکید نمودند.

بربنیاد این تفاهمنامه نهاد های سکتور ضمن تشریک مساعی همه جانبه با وزارت معارف تعهد سپردند که در راه محوه بی سوادی به ویژه در میان زنان و اجیران نهاد های خویش جد و جهد جدی می نمایند.

## د لوګر له ځلورو ښوونځيو سره د لمريزو تختو او برېښنايي وسايلو مرسته وشوه

د لوګر ولايت د نجونو له ځلورو لېسو سره د آسيا بنياد لخوا د لمريزو تختو، پرينټرونو، د کانکور د چمتووالي کتابونو او يو شمېر نورو برېښنايي وسايلو مرسته وشوه.دغه مرسته د مرکز پل علم د بي بي آمنې، د محمدآغي ولسوالی د محمدآغې، د خوشۍ ولسوالۍ د خوشۍ او د بره کي برک ولسوالۍ د بره کي راجان د نجونو له لېسو سره شوي ده.

په دې مرسته کې د محمدآغې، خوشۍ او بره کي راجان لېسو ته يوتخته سولر، يوه بېټرۍ، يورنګه پرينټر، ځلور iPod موبايلونه، د برېښنا کنټرولونکی ماشين، يوه الماری، شل ټوکه د کانکور د چمتووالي کتابونه او دغه راز د بي بي آمنې د نجونو لېسې ته يو رنګه پرينټر، اتيا ټوکه د کانکور د چمتووالي کتابونه او ځلور د iPod موبايلونه ورکړل شوي دي.

د لوګر د پوهنې رياست له نوموړو ښوونځيو سره د آسيا بنياد له مرستو څخه مننه کوي او له نورو ښوونځيو سره د ورته مرستو هيلې لري.

## شرین عمر

احمد شاه بابا

شیرین عمر چې تیریږي دریغه دریغه
د اوبو په څیر بهیږي دریغه دریغه
ولې زړه پرې خبر نه دی له رفتنه
چې داهسې زر تیریږي دریغه دریغه
ولې هسې شوي بې غمه زما دله
عمر باد غوندې چلیږي دریغه دریغه
که هر څو په ډیر ناز جوړې کړې مانۍ
په ارمان ځینې پاتیږي دریغه دریغه
دریغه دریغه اخر دریغه زما دله
چې مین جمله تیریږي دریغه دریغه
دا یاران لکه ګلونه د بهار دي
د خزان په تاو رژیږي دریغه دریغه
د هجران مثال دوزخ بیلتون ډېرې
د عاشق په سر لګیږي دریغه دریغه
که پیدا نه وای دیدن بیلتون به مړوو
له دیدنه خون بهیږي دریغه دریغه
اشنایي په مثال ګل حاصل یې خار دی
خارشی سخت هله سوځیږي دریغه دریغه
احمد شاه به څه غم که وخت دهوش دی
د وصال نوبت غریږي د ریغه دریغه

## سخنان سودمند

اگر می خواهی هستی را بشناسی، خود را بشناس — **سقراط**
اگر هر روز کلمه ای به دانش خود بیفزایی، پس از هر سال صدها کلمه خواهی دانست
اگر دانش را به خاطر کسب درآمد فرا می گیرید، در حق آنهایی که به خاطر خودشان دانش اندوخته اند، تجاوز کرده اید. — **آندره ژید**
در گذشته، مردم به کسب دانش می پرداختند تا خود را به درجه کمال برسانند. امروزه دانش را برای این فرا می گیرند که دیگران را شیفته و فرمانبردار خود سازند. — **فوسیوس**

دانش پاک در دلهای ناپاک قرار نمی گیرد . — **سقراط**
فردا هرگز دیر نخواهد بود، اگر بدانید که در جستجوی دانش هستید ملتی که از علم و دانش بهره مند باشند، دیگر طعم گرسنگی را نچشیده و زندگی راحت و آسوده ای خواهند داشت . — **کنفوسیو س**
لذتی که از علم حاصل می شود، بی آلایش است . — **افلاطون**
کم دانستن و پر گفتن مثل نداشتن و زیاد خرج کردن است — **ناپلئون بناپارت**
دانش یعنی قدرت — **فرانسیس بیکن**
رهبران موفق هیچ گاه دست از آموختن بر نمی دارند. فرایند آموختن هرگز تمام نمی شود و پیوسته آموختن پیامد چیرگی بر خویشتن و پشتکار است. — **جان ماکسول**
خود را بشناس و به روح خویش فرمانروایی کن. در این صورت می توانی امیدوار باشی که روزی مقتدر و سعادتمند خواهی شد
اشخاص زیرک از بدبختی ها و گرفتاری های دیگران آگاه و بیدار می شوند، ولی اشخاص نادان از بلاهای خود عبرت نمی گیرند. — **بنجامین فرانکلین**
افراد بد کردار معایب خویش را از خود و دیگران پنهان می دارند، ولی راستکاران بر معایب خود واقف و بدان معترفند. — **لاروشفوکو**

**ترتیب کننده: محمد عباس**

## خواص خرما

خرما حاوی ویتامین های A، B1، E و عناصر چون آهن Fe– پتاشیم K - کلسیم- Ca فاسفورس p- مگنیزیم Mg و گوگرد S می باشد.
خرما ملین، خلط آور، شیر افزا، دافع بلغم، زهکش کبد، ضد فلج، مقوی قلب و حافظه بوده و موجب تقویت قوه بینایی می شود.
خرما نور چشم را زیاد و به فعالیت بهتر غدد جنسی زن و مرد کمک می کند.
این میوه خشک بعلت داشتن ماده معدنی فاسفورس موجب افزایش سلولهای مغزی شده و همچنین در تشکیل مواد هورمونی و افزایش نیروی جنسی تأثیر بسزایی دارد.
خوردن خرما با شیر در افزایش شیر مادر، رفع لاغری و زیاد شدن اسپرم تأثیر رضایت بخشی دارد.
به منظور تقویت نیروی جنسی توصه شده است که خرما را مخلوط با شیر و زرده تخم مرغ میل کنید و یا این که خرما را مخلوط با شیر و دارچین صرف کنید.
مصرف خرما برای اشخاصی که به ناراحتی هایی از قبیل: ضعف بدن،مسمومیت ، درد کمر ، کم خونی ،رماتیسم ، نقرس ، اسید اوریک ، یبوست ، ، سل ، ناراحتی های شنوایی ، سرطان لوزالمعده ، خون دچار می باشند ، خوراکی مفیدی بوده و اثر درمانی دارد .
برای رفع آروغ توصیه شده است که هر روز یک عدد خرما بطور ناشتا بمدت یک هفته میل نمائید .
در طب سنتی خوردن خرما به همرای پرتقال در رفع ورم روده ها مفید ذکر شده و نارس آن را برای بر طرف شده بواسیر اثر بخش می دانستند .
زیاده روی درخوردن خرما موجب سردرد ، خارش ، جوش پوستی ، حساسیت های پوستی اشخاص گرم مزاج و همچنین مبتلایان به چاقی ، قند خون و ناراحتی های کبدی و کلیوی هرگز نباید در خوردن خرما افراط کنند و حتی بهتر است که از خوردن خرما خود داری کنند .

**ترتیب کننده: عایشه**
\

## نگاه

فراح الدین اکرام

دانی که نِگاهی به نگاهَت نِگران است
در مرگ دلم پای خیالت به میان است
در شعر، پریشان نظران جای ندارند
زیبایی چشمان تو معیار بیان است
با دیدن تو رنگ ز رخسار جهان رفت
این دیدنت انگار که تکرار خزان است
ای عشق کمی شعر بخوان مست شوم من
آوای تو مستانه تر از صوت اذان است
زیباتر از آنی که ز وصفت به درآیم
نور نگهت مرجع اشعار گران است
در هر نفسم باز بخوان راز دلم را
این شعر پر از حرف دل و سرّ نهان است

## پوهاند عبدالقیوم وردګ د پوهنې درویشتم وزیر

**ګل آغا احمدي وردګ**

پوهاند عبدالقيوم وردګ په ۱۳۰۳ هجري لمريز کال د وردګو ولایت د سیدآباد ولسوالي د تنګي د سپین ورسك په کلي کې زیږیدلې دی او لومړنی زده کړې یې د (احضاریه) په حربي ښوونځي او منځنۍ زده کړې یې د کابل په حربي ښوونځي کې ترسره کړې دي. له هغه وروسته یې د کابل دارالمعلمین لوستی او د نوموړي دارالمعلمین څخه یې د څوارلسم ټولګي سند په لاس راوړی دی. ښاغلی پوهاند عبدالقيوم وردګ په ۱۳۲۴ کال د دویم بریدمن په رتبه د کابل په حربي ښوونځي کې د ښوونکي په صفت دنده پیل کړه او تر ۱۳۲۷ کال پورې یې نوموړې دندې ته دوام ورکړ. پوهاند عبدالقيوم وردګ د ۱۳۲۷ کال په پای کې د لوړو زده کړو لپاره د امریکا متحده ایالاتو ته ولاړ چې له امریکا څخه یې د لیسانس او ماسترۍ سند د لاسته راوړلو وروسته په ۱۳۳۴ کال بېرته هېواد ته راستون شو. هېواد ته تر راستنېدو وروسته یې د افغانستان د دولت په مختلفو ملکي او نظامي اداراو کې بریالۍ دندې یوه پر بله پسې اجرا کړې دي. پوهاند عبدالقيوم وردګ په ۱۳۳۷ کال د لوړو او مسلکي زده کړو د حصول په موخه یو ځلې د امریکا متحده ایالاتو ته ولاړ او هلته یې د مسلکي زده کړو تر څنګ د الونای د ایالت په اتومي ارګان کې د ۱۵ میاشتو لپاره دنده اجرا کړې ده. هېواد ته تر راستنېدو وروسته نوموړي د ۱۳۳۹ کال تر نیمایي پورې د افغانستان د ملي دفاع په وزارت کې د جګتورن په صفت دنده اجرا کړې او د همدې کال د سنبلې په میاشت کې د پوهنې وزارت ته تبدیل شو. پوهاند عبدالقيوم وردګ د پوهنې د وزارت په دندې سربېره د کابل پوهنتون د ساینس په پوهنځي کې تدریس پیل کړ او د نوموړي پوهنتون د عالي شورا غړیتوب یې هم په لاس راوړ. د ۱۳۵۰ کال د ثور یا غوایي د میاشتې په ۱۴ مه نېټه ښاغلی پوهاند عبدالقيوم وردګ د کابل پوهنتون د علومو د پوهنځي د رییس په توګه و ټاکل شو او د ۱۳۵۱ کال تر پایه یې نوموړې دندې ته ادامه ورکړه. ښاغلی پوهاند عبدالقيوم وردګ د ۱۳۵۲ کال د زمري د میاشتې تر ۱۰ مې نېټې پورې د کابل پوهنتون د ساینس د پوهنځي د علمي کادر په توګه خپله دنده اجرا کړې ده. ښاغلی وردګ د ۱۳۵۲ کال د زمري د میاشتې په ۱۵ مه نېټه د افغانستان د جمهوري دولت د کانونو او صنایعو د وزیر په توګه مقرر شو او په نوموړې وزارت کې یې خپله دنده د همدې کال د لیندۍ د میاشتې تر ۲۵ مې پورې اجرا کړېده. پوهاند عبدالقيوم وردګ د ۱۳۵۲ کال د لیندۍ په ۲۸ د وخت د جمهوري ریاست د مقام سردار محمد داودخان په امر د پوهنې د وزیر په توګه مقرر شو. ښاغلی پوهاند عبدالقيوم وردګ په ۱۳۵۵ کال کې د افغانستان د اساسي قانون د تسوید د کمېټې غړیتوب تر لاسه او د وخت د نوي اساسي قانون د تسوید چارې یې په بري سره تر سره کړې او د خپلو نورو همکارانو په همکارۍ یې د افغانستان د جمهوري دولت د نوی اساسي قانون مصوبه جوړه کړه. په ۱۳۵۶ کال کې ښاغلي پوهاند عبدالقيوم وردګ د سرحداتو او قبایلو چارو د وزیر په توګه و ټاکل شو او د ۱۳۵۷ کال د ثور یا غوایي تر ۶ مې نېټې پورې یې خپلې دندې ته دوام ورکړ. په همدې کال ښاغلی وردګ د ښاغلي سردار محمد داودخان د ملي انقلاب د ګوند د مرکزي کمیټې غړیتوب هم تر لاسه کړ او د همدې ګوند په مرکزي کمېټه کې د ښاغلي پوهاند وردګ په شمول د شهید سردار محمد داودخان د کابینې څلور تنو نورو وزیرانو هم غړیتوب تر لاسه کړی وو. نوموړی د ۱۳۵۷ کال د ثور له کودتا څخه وروسته د څه وخت لپاره زنداني شو خو له زندان څخه تر خوشې کېدو وروسته تر هغه مهاله په خپل هېواد کې پاتې شو چې په ۱۳۷۱ کال په کابل کې د مختلفو جګړه مارو ډلو تر منځ کورنۍ جګړې پیل او کابل لوټې لوټې شو. نوموړی په همدې کال د خپلې کورنۍ سره یو ځای فرانسې ته ولاړ. پوهاند عبدالقيوم وردګ په ۱۳۷۸ هجري لمريز کال چې د ۱۹۹۹ زیږدیز کال سره برابر دی، له فاني نړۍ څخه سترګې پټې کړې .

## شمعه او شیشه

ستورو ته مې راز وایمه ، بام سره خبرې کړم
ستاسترګې چې نه وینم ،نو جام سره خبرې کړم
شپه ده او سپوږمۍ ده ، زه یوازې او یوازې یم
شمعه اوشیشه لرم ، خیام سره خبرې کړم
دی راته ستا سترګې او ستا سترګې ملامتې کړي
زه چې مې دزړه له هرناکام سره خبرې کړم
هیڅ یوه شیبه یې ستا له یاده خالي نه وي ،چې
زه دهرې ورځې له انجام سره خبرې کړم
ستادخوږو شونډو منطق پټ ساتم په شونډو کې
زه په ځان باورلرم ، ارام سره خبرې کړم
زه خوپه سیاست هم ستا پیکې اومخ عادت کړمه
سپین سهار ته ناست یم او ماښام سره خبرې کړم
دواړه مې دوینو تږي ، دواړه دي چاړه په لاس
یوخوا له پاچا ، بل خوا امام سره خبرې کړم
څوك به مغول تیغ نه دافغان ماشوم مرۍ ساتي ؟
نه شته خوشال نه شته، له بهرام سره خبرې کړم
ز ه لیونی ګڼه یم ، دی خبر په خیرو شر نه شو
لاهم داسې ولس ، لا داسې قام سره خبرې کړم

**رالیږونکی: عبدالنجیب**

Weekly Marif Newspaper

Established 2002, Issue No 205, Month November - December 2016

Ministry of Education Cultural and Social Issue

# A Wholesome, Balanced And Diligent Education System Guaranties The Development And Prosperity Of A Country

## تفاهمنامه مساعدت ۴،۴ میلیون دالری کمیته سعودی با وزارت معارف به امضا رسید

تفاهمنامه مساعدت ۴،۴ میلیون دالری کمیته سعودی برای کمک به مردم



افغانستان توسط دکتر اسدالله حنیف بلخی وزیر معارف و مسفربن عبدالرحن ال غاضب سفیر عربستان سعودی مقیم افغانستان در مرکز رسانه های حکومت به امضاء رسید .

محترم بلخی از کمک های کشور دوست عربستان سعودی در همه عرصه ها بخصوص در عرصه معارف ابراز قدردانی و تشکر نمودند. قراراست ازین کمک برای ۵۰۰۰ تن شاگرد عم از ذکور واناث در بخش آموزش زبان عربی، تدویر کورس های ویژه برای معلمان زبان عربی و علوم دینی ایجاد کورس های آموزشی برای ۲۵۰۰ تن از کارمندان وزارت معارف همچنان برای ۲۰۰ تن در ولایات ننگرهار ، هرات ، کابل ، بلخ و قندهار برنامه های تخصصی کمپیوتر راه اندازی خواهد شد .

همچنان وزیر معارف تاکید نمودند که این وزارت جهت تطبیق برنامه های یاد شده در ولایات مذکور حضور نظارتی جدی داشته و در راستای فراهم آوری سهولت ها می کوشد و متعهد است که صورت مخارج با شفافیت کامل و بر وفق موازین اداری خواهد بود.

## موسسهٔ GIZ به کمک های خود ادامه میدهد

نخستین نشست به هدف ایجاد راهبرد جدید جهت ادامه و مصرف کمک‌های موسسه محترم "GIZ" کشور آلمان برگزار شد.

تخنیکی و مسلکی در هوتل کابل سرینا برگزار شده‌بود؛ معین تعلیمات تخنیکی و مسلکی کمک‌های موسسه «جی‌آی‌زی» را در بخش معارف



این برنامه با حضور داشت پوهندوی رحیل‌محمد فرملی معین تعلیمات تخنیکی و مسلکی وزارت معارف، داکتر گوستفرایر مسوول موسسه "جی‌آی‌زی" معاون و همکاران ایشان و سرپرست‌روسای معینیت تعلیمات

افغانستان به ویژه تعلیمات تخنیکی و مسلکی ارزنده دانسته و از کمک‌های انسان دوستانه‌ی دولت آلمان، و موسسه «جی‌آی‌زی» ابراز تشکر و امتنان نمود.

آقای فرملی تأکید کرد که هیأت رهبری معینیت تعلیمات تخنیکی و مسلکی متعهد به روابط خوب با دونرها و تمویل‌کنندگان این معینیت می‌باشد.

همچنان معین تعلیمات تخنیکی و مسلکی اضافه کرد؛ ما نیازمندی‌های اولیه خود را برمیشاریم و از دوستان محترم ما در موسسه «جی‌آی‌زی» خواهشمندیم که در سال ۲۰۱۷ میلادی کمک‌های بیشتر از سال‌های گذشته را در اختیار معینیت تعلیمات تخنیکی و مسلکی قرار دهند.

داکتر گوستفرایر، مسوول موسسه "جی آی زی" از تعهد و همکاری های همه جانبه مقام معینیت تعلیمات تخنیکی و مسلکی وزارت معارف به نیکویی یاد کرده و بیان داشت که کشورش متعهد به همکاری‌های دوامدار با این معینیت می‌باشد.

## منلیک

د معارف اوونیزې اداره له خپلو درنو ښوونکو، زده کوونکو او مینه والو څخه هیله کوي چې خپل ښوونیز، روزنیز مطالب او مضامین په ساده ، روانه او خوږه ژبه د معارف اوونیزې په پته را ولیږي ترڅو په دې توګه د هیواد د زامنو لپاره د خدمت جوګه شو .

پدې لړ کې زموږ یو لوستونکي د امریکا د متحده آیالاتو د کلفورنیا له ایالت څخه چې دپوهنې وزارت د معارف اوونیزې او عرفان مجلې نشرات تعقیبوي ، زموږ خپرونې یې ستایلې او د یو لیک په رالیږلو سره یې د پوهنې وزارت له محترم مقام، معارف اوونیزې او عرفان مجلې له کارکوونکو څخه ددوی د صادقانه خدمت په خاطر مننه کړې چې



بمقام محترم رهبری وزارت جلیله معارف



To the Ministry of Education

We Afghan teachers and professors from the United States of America appreciate and express our gratitude to the efforts of Orfan magazine and Marif weekly education newspaper, the true standing and representor of educational activities from schools and high schools in Afghanistan that inscribed concise but very comprehensive about Mrs. Khairya Masoom Shalizi personal and professional working career in its version number 201 dated October 2016. She had the same rights and responsibility on us to appreciate her tangible services in education sector, particularly teaching the Afghan children for above forty years in Afghanistan. We would like to have your further success from almighty Allah in your daily responsibilities.

On behalf of teachers and professors currently living in California (USA).

MRs. Fakhria Alefi and Professor Mohammad Naseem Payenda.

موږ یې دلیک متن خپور کړ او موږ هم له دې مهربانه دوستانو څخه یوه نړۍ مننه کوو چې له ډیر لرې واټن څخه د خپل هیواد د سمسورتیا او آبادۍ هیله له ځان سره لري .

## ښوونځیو کې د نجونو د شمولیت په اړه کمپاین پیلیږي

د پوهنې او ښځو چارو وزارتونو په ښوونځیو کې د نجونو د شمولیت د ډېروالي او د ښځو د حقونو په اړه د عامه پوهاوي په موخه د مرستو دوه اړخیز هوکړه لیک لاسلیک کړ. په ښوونځیو کې د نجونو د شمولیت د نجونو د شمولیت پراختیا، زده کړو ته د نجونو لاسرسی، په ټولنه کې د ښځو او نجونو رول او د ښځو د حقونو په اړه عامه پوهاوی ددې پروژې د پلي کېدو مهمې موخې یادې کړې.



د پراختیا یاده پروژه د هېواد په څلورو ولایتونو کابل، ننګرهار، بلخ او هرات کې د پوهنې وزارت د یونسکو او آیسسکو کمېسیون د ۲۰ زره امریکایي ډالرو په مالي مرسته د ښځو چارو وزارت لخوا پلې کېږي. ددې پروژې تړون د پوهنې وزارت د یونسکو کمېسیون د سکرتر جنراَل محمد شاکر حبیب یار او ښځو چارو وزارت د مسلکي مرستیالې سپوږمۍ وردګ ترمنځ لاسلیک شو. ښاغلي حبیب یار وویل، چې دا پروژه د یونسکو د سټنډرډونو پر اساس د ښځو چارو وزارت او یونسکو کمېسیون په ګډه مرسته او همکارۍ پلې کېږي. نوموړي په ښوونځیو کې د ښځو چارو وزارت مسلکي مرستیالې مېرمن سپوږمۍ وردګ ددې هوکړه لیک د لاسلیک پر مهاَل ښوونه او روزنه د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو مهمه وسیله وګڼله او هیله یې وښوده، چې ددې پروژې له پلي کېدو سره به ښوونځیو کې د نجونو په شمولیت کې ډېر والی راشي .نوموړې د دواړو وزارتونو ترمنځ مرسته او همکاري د نجونو د زده کړو او د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو برخه کې مهمه وبلله او هیله وښوده، چې ورته دوه اړخیزه همکاري دوام ومومي.

## مرکز مشاوره شغلی انستیتوت زراعت و وترنری کابل افتتاح شد

مرکز مشاوره شغلی( Career Counselling Center) انستیتوت زراعت و وترنری کابل از سوی پوهندوی رحیل‌محمد فرملی معین تعلیمات تخنیکی و مسلکی وزارت معارف با حضور داشت اسدالله زرملوال مسوول پروژه «AWDP» ایالات متحده امریکا، عبدالرحیم زی آمر انستیتوت زراعت و وترنری، استادان این انستیتوت و مسوول دفتر خدمات مشورتی سید، افتتاح شد.

مرکز مشاوره شغلی (CCC) انستیتوت زارعت و وترنری که به هدف کاریابی فارغان این انستیتوت و چگونگی تامین روابط آنان با نهادها و سکتورهای مختلف دولتی و غیر



دولتی، در مدت کمتر یک سال اعمار شده‌است با وسایل و تکنالوژی مدرن مجهز می‌باشد، هزینه ساخت ۲۵ هزار دالری این مرکز از سوی پروژه محترم (AWDP) ایالات متحده امریکا پرداخت شده‌است.

مسوول مدیر: محمد نسیم "عیاذ"

کتنپلاوي: محمد کبیر حقمل– معراج زماني– استاد ګل رحمان رحمان عبدالصبور غفراني – محمد اکرم وفادار

خبریال: – محمد طائب عمري – محمد اشرف رسولي

کمپوز او ډیزاین: بریالی رحمانزی

شمیر: ۵۰۰۰

دیجیتل: (۰۷۲۹۸۱۹۰۳۳)

ایمیل: marif.newspaper.moe@gmail.com

پته: دکابل ښار، محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت د نشراتو او اطلاعاتو ریاست، د پوهنې اوونیزې مدیریت